دا قوانین د کارمندانو د مهاجرت وضعیت په پام کې نیولو پرته کارمندان محافظت کوي. د پوښښ لاندې کارمندان باید د دې قوانینو سره سمون ولري. غچ اخیستنه غیرقانوني ده.
قوانین د 2020 جولای 1 څخه شوي دي

د Office of Labor Standards (OLS)، کار معیارونو دفتر) ماموریت د ټولنې او سوداګرۍ مفهوم لرونکې ښکیلتیا، ستراتیژیک اجرا او د نوښت پالیسۍ پراختیا له لارې د نژادي او ټولنیز عدالت ته ژمنتیا سره د کاري معیارونو پرمختګ دی.

دا خبرتیا باید د کارځای د لیدل کیدو وړ ساحه کې په انګلسي ژبه کې او په هغه ژبو کې چې کارمندان ورباندې غږیږي، وځړول شي.
د Office of Labor Standards دفتر تحریري ژباړې، شفاهي ژباړې او استوګنه د معیوبیت لرونکي خلکو لپاره وړاندې کوي.

# د هوټل کارمندانو لپاره د حقونو د 2023 خبرتیا

SMC 14.26

## د تاوتریخوالي څخه محافظت

**د میلمنو لخوا د تاوتریخوالي یا د ځورونې اعمالو پروړاندې کارمندان محافظت کوي**

### دا په چا پلي کیږي؟

ساعتوار کارمندان چې د 60 یا ډیرو خونو هوټلونو کې کار کوي

### کارمندان حق لري:

- د ویرې خبرداري ته‌ی کله چې د هوټل میلمه خونه کې کار کوي یا عرضه ورته کوي
- د هوټل د میلمنو لخوا د تاوتریخوالي یا ځورونې عمل څخه محافظت شي
- د میلمه د تاوتریخوالي یا ځورونې عمل په اړه کارګمارونکي ته خبر ورکړي
- د داسې میلمه خونې کې کار کولو یا عرضه کولو ته ونه ګومارل شي که چیرې د نوموړي هوټل میلمه په اړه د تاوتریخوالي یا ځورونې راپور ورکړل شوی وي

**د میلمه د ادعا شوي تاوتریخوالي یا ځورونې سره مخ شوی کارمند حق لري چې:**

- د هغوی په خوښه بلې کاري ساحه کې بیرته وګومارل شي
- تر 16 ساعتونو پورې د تادیه شوي وخت لپاره د قانون تنفیذ سره وغږیږي او همدارنګه د کارمند لخوا انتخاب شوي د ملاتړ فرد سره
- د ملاتړ خدمتونو، سرچینو او/یا رجعتونو لپاره King County Sexual Assault Resource Center ته لاسرسی ولري تلیفون وکړي (24 ساعته لیکه): 1-888-998-6423
- د جرم قرباني وکیل ته لاسرسی ولري لکه څنګه چې د Revised Code of Washington 7.69.030 (واشنګتن اصلاح شوي کوډ 7.69.030) کې ورکړل شوي دي

SMC 14.27

## د کاري حجم محدودیتونه

**د خونې د پاکولو کاري حجم محدودیتونه**

### دا په چا پلي کیږي؟

هغه ساعتوار کارمندان چې د 100 یا ډیرو میلمه خونو لرونکي هوټل کې خونې پاکوي

### کارمندان حق لري:

- په یوه 8 – ساعته کاري ورځ کې نهایت 4,500 فټ مربع مساحت میلمه خونې پاک کړي (د کمو ساعتونو لپاره هم په همدې تناسب)
- د مجاز اعظمي مساحت څخه د ډیر ځای پاکول رد کړي
- د مجاز اعظمي مساحت څخه د ډیر ځای پاکولو لپاره 3 چنده ډیره تادیه ترلاسه کړي (په ډیرې حالتونو کې)

SMC 14.28

## طبي پاملرنې ته لاسرسی

**کارګمارونکي اړ دي د روغتیا پاملرنې لګښتونه په غاړه واخلي**

### دا په چا پلي کیږي؟

هغه ساعتوار کارمندان چې د 100 یا ډیرو خونو لرونکي هوټل کې په میاشت کې لږترلږه 80 ساعتونه یا ډیر کار کوي. په سوپروایزرانو، مدیرانو یا ځینې کارمندانو نه پلي کیږي څوک چې دکارې اړیکو په اړه د مدیریت پالیسیو په اړه د مدیریت پالیسیو مشخص کولو کې مرسته کوي.

### کارمندان حق لري:

- د کارګمارونکي د مکلفیت لاندې روغتیایي پاملرنې لګښتونو له لارې طبي پاملرنې ته غوره لاسرسی ولري
- کارګمارونکي کولی شي د لاندې ورکړل شوي یو یا ډیرو مواردو له لارې لګښت پرې کړي:

(1) د عادي عاید تادیات

(2) د کارګمارونکي لخوا سپانسر شوي روغتیایي بیمې پلان لپاره تادیات، او/یا

(3) د مالیه له پلوه غوره روغتیایي پلانونو کې تادیات (لکه د روغتیا سپما حسابونه)

**د 2023 نرخونه†**

| میاشتنی لګښت | د کورنی ترکیب |
|---|---|
| 518 ډالر | یووستوی کارمند |
| 881 ډالر | یووستوی کارمند د وابسطه افرادو سره |
| 1,036 ډالر | د میرمن/خاوند لرونکی کارمند، د وابسطه افرادو نلرونکی |
| 1,555 ډالر | د میرمن/خاوند او د وابسطه افرادو لرونکی کارمند |

†د هر تقویمي کال لپاره نرخونه د تیر کال جون 30 نیټې پورې اعلانیږي

که چیرې کارګمارونکی د روغتیا بیمې پوښښ وړاندیز کړي، نسخه د کارګمارونکي د لومړی ځل داخلې مودې په نیټه د اجرا وړ کیږي کوم چې د 2020 جولای 1 وروسته پیښیږي.

SMC 14.29

## د دندې ساتل

**په مالکیت کې د بدلون وروسته د کارمندانو ساتل اړین ګرځوي**

### دا په چا پلي کیږي؟

د روغتیا سپما حسابونه) هغه ساعتوار کارمندان چې د 60 یا ډیرو خونو لرونکي هوټل کې لږترلږه د 30 ورځو لپاره کار وکړي مخکې لدې چې نوموړي سوداګري وپلورل شي. په سوپروایزرانو، مدیرانو، یا ځینې کارمندانو نه پلي کیږي څوک چې د کارګري اړیکو په اړه د مدیریت پالیسیو مشخص کولو کې مرسته کوي.

### کارمندان حق لري:

- پدې اړه خبرتیا چې د سوداګرۍ مالکیت بدلیږي
- د راتلونکي کارګمارونکي سره د دندې لیکلی وړاندیز (د مشرتوب پربنسټ وړاندیزونه)
- د نوي کارګمارونکي سره د نوي ورځو استخدام، غیرلدې دا چې د کارمند ایستلو لپاره دلیل موجود وي یا د ایستلو لپاره اړتیا وي (د مشرتوب پربنسټ ایستل)
- په 90 ورځو کې د فعالیت ارزونه

## د خپل کارمند حقونه وپیژنئ

**غچ اخیستنه منع ده:** دا قوانین کارمندان محافظت کوي د دې حقونو څخه ګټه اخیستنې یا ترلاسه کولو لپاره د غچ اخیستنې څخه.

**د شکایت کولو حق:** کارمندان حق لري د OLS سره شکایت ثبت کړي یا قانوني عریضه وکړي که چیرې کوم کارګمارونکی د دې قوانینو څخه سرغړونه کوي.


**اړیکه:**

OFFICE OF LABOR STANDARDS

**کارګمارونکي**

د تطابق مرسته ترلاسه کړئ او/یا روزنه ترلاسه کړئ

**کارمندان**

د OLS سره شکایت ثبت کړئ یا په محکمه کې قانوني عریضه وکړئ

206-256-5297

www.seattle.gov/laborstandards

LABORSTANDARDS@SEATTLE.GOV | 810 THIRD AVE, SUITE 375 SEATTLE, WA 98104